# د ملي ژغورنې د پیل نېټه

په پخوانیو کال هینداړو او نورو خپرونو کې د ملي ژغورنې د پیل نېټه د (۱۳۰۸) لمریز کال د تلې درویشتمه ښودل سوې ده ــ دا هغه نېکمرغه ورځ ده چې شهید اعلیحضرت محمدنادرشاه د کابل پر حکومت برې مومي. دا سمه ده؛ مګر د ماتې پیل چېرې و؟ د نوي نسل د پوهاوي دپاره باید یوڅه مخکې او شاته ولاړ سو:

زموږ په بېوزلې ملت کې د تاریخي بېخبنا او مخبنا د وروسته والي، د مناسبو اقتصادي حالتو او د لازمي ټولنیزي او سیاسي ښوونې او روزنې د سطحې د نشتوالي او بیا په دربار کې د خاینو او ارتجاعي عناصرو د کرغېړنو چارو او همدارنګه د پرنګي دسیسو جوړولو په نتیجه کې غازي شاه امان الله خان د (۱۳۰۷) لمریز کال د مرغومي په دریمه د ټولواکۍ څخه لاس واخیست... د خادم دین رسول الله ــ د کلکان حبیب الله پر سر د پاچهۍ باز کښېنول سو.

دا چې په (۹) میاشتنې اړودوړ کې څنګه د اماني دورې ټول ریفورمونه شنډ سوه؛ د کابل او پاته هیواد پر بدمرغه ولس څه تېر سوه او څنګه پر هیواد د توري شپې مخ وغوړېدئ، دا بېل څېړکی دئ... خو د ژغورنې د پیل په اړوند د تاریخ یوه پاڼه د لوسته څخه پاته ده، هغه دا چې:

حبیب الله د ځواک پر ګدۍ تر ناستې وروسته وویل چې: ”تر هغو د کندهاره بیعت را نه سي، زه پاچهي نه کوم.“ ده د خپل ځواک د ټینګولو دپاره په کندهار کې خپلوي هم وکړه، خو مامورینو یې هغه نادودي وکړې چې د ولس سخت غبرګون یې راوپاراوه.

د ښاغلي ورور حفیظ الله خان کرزي د خبرو په اساس د پاڅون لومړی پیلامه د کندهار په (کرز) کې تر سترګو سوه: دلته د کندهار د قومو مشران سره راټول او پر لاروچارو یې خبرې سره پیل کړې. دوی دغه کسان وه:

ــ اروانباد حاجي خیرمحمدخان یا معین خیروجان چې خلګو (خان بابا) باله. خان بابا د ښاغلي حامد کرزي نیکه او د اروانباد حبیب الله کرزي، ښاغلي حفیظ الله کرزي او شهید خلیل خان پلار و (۱۳۲۷ ل. وفات)

د ملاعبدالسلام بابا د نظم یوه مسرۍ ده: صد آفرین و صد رحمت، پر پوپلزي خیروجان

چې زرو کسو تې (ته یې)، خرڅه کوله د ځان

ــ د بارکزو مشران: اروانباد سردار مهردل خان او اروانباد قاضي شکورخان.

ــ د محمدزو مشران: اروانباد سیدجان مشاور، اروانباد عبدالوهاب خان او سردار محمدهاشم خان.

ــ د الکوزو مشران: اروانباد سدوخان الکوزی، اروانباد سیداشرف اغا.

ــ د اڅکزو مشران: اروانباد زقوم خان او اروانباد حیات خان (د عصمت مسلم پلار).

ــ او نور... چې ټولو سره (۲۳) سپین بیرغونه درلوده.

ددغو مشرانو د تابیا په پایله کې د اروانباد پوهاند عبدالشکور رشاد په خبره د (۱۳۰۸) لمریز کال د تلې په اووه لسمه (پام: د کابل تر فتحې یوه هفته دمخه) ولسي لښکر په کندهار کې د ښکارپر (شکارپُر) بازار او کابل بازار دخوا پر حکومتي ځواکو باندې ــ چې د کلا نظامي ځایونه یې په ولکه کې وه او په توپو مسلح وه ــ یرغل ووړ او دوی یې محاصره کړه... محاصره بریالۍ سوه. تر جګړې وروسته د ښار دروازې یو په بل پسې ماتې سوې او د (خادم دین) سرتېرو بده ماته وکړه.

همدغه ماته وه چې حبیب الله وویل: ”په کندهار کې چې مات سوم، نور نو زما او د پاچهۍ وار سره تېر دئ“...

ددغې سوبې له امله په کابل کې (مینار نجات) یا د ژغورون څلی او د نجات لېسه جوړه سوه.

ما دا څلی لیدلئ و؛ خو د کندهار د فاتحانو نومونه مې نه وه تر سترګو سوي، او بیا د خواشینۍ خبره داده چې نورمحمد تره کي هغه څلی په ځوشېبو کې د خاورو سره سم کړ (هغه کار چې ”مترکي“ وګړو لړ کړئ دئ؛ مترقي انسان ــ د چپي جنبې په نفي سره ــ یا پرمختللی انسان خو پرېږده.).